د افغانستان اسلامي جمهوریت

د پوهنې وزارت

# د لومړنۍ دورې د لوستلو ملي پالیسي

۱۹ غوئی ۱۳۹۷

## سریزه

د الله ﷻ شکر ادا کوم چې مونږ د دې سند په جوړولو توانېدلي یو چې په لومړنۍ دوره کې د پوهنې د کیفیت د کچې د لوړولو زمینه برابروي. په بېلا بېلو کچو د پوهنې په ډګر کې پرمختګونو ته په کتنې سره، اړینه ده چې لومړنیو ټولګیو ته، چې د پورته ټولګیو، حتی تر لوړو زده کړو پورې، د پرمختللې زده کړې بنسټ بردي، کافي پاملرنه وشي. دا په ثبوت رسېدلې ده چې په لومړنیو ټولګیو کې لوستل له خورا لوړ ارزښت څخه برخمن دي ځکه، دا ماشومان د دې وړ ګرځوي چې یو متن ولولي او پر لوستل شوي متن پوه شي. د بنسټیزو مهارتونو لوړول به له زده کوونکو سره په پورته ټولګیو د نورو مضمونونو په ښه پوهېدلو کې مرسته وکړي او د هغوی د زده کړې د پرمختګونو کچه به لوړه کړي.

دا پالیسي د پوهنې وزارت د کارکوونکو د نه ستړي کېدونکو هلو ځلو او د نړیوالو متخصصینو د ملاتړ په پایله کې جوړه شوې ده. دا په افغانستان کې لومړی سند دی چې په نړیواله کچه د لوستلو په تړاو د منل شویو ستندردونو پر بنسټ او د پوهنې وزارت د استراتیژیکو موخو په رڼا کې په لومړنیو ټولګیو کې پر لوستلو باندې ځانګړی تمرکز لري. دا پالیسي د پوهنې وزارت، د ښوونځیو ښوونکو او مدیرانو لپاره د یوه سیستم د پلی کولو د لارښود حیثیت لري چې په لومړنیو ټولګیو کې له باکیفیته ښوونې او روزنې څخه ملاتړ کوي او د زده کوونکو د زده کړې کچه به لوړه کړي.

د خوښۍ او هیله مندۍ په ښودلو سره د دې د سند د جوړولو په تړاو باید ووایم چې دا سند به په لومړنیو ټولګیو کې د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړولو په برخه کې د غښتلو ګامونو په پورته کولو کې له پوهنې وزارت سره مرسته وکړي. له دې کبله، د ښوونځیو ښوونکو، مدیرانو او منسوبینو ته لارښوونه کېږي چې د دې سند د پلی کولو په برخه کې هیڅ ډول مرسته و نه سپموي.

په پای کې له ټولو ښکېلو خواوو څخه د زړه له کومې مننه کوم او کورودانی ورته وایم چې د دې پالیسۍ په جوړولو کې یې ونډه اخیستې ده. دا سند به د یوې ملي پالیسي په توګه افغان نجونې او هلکان د دې وړ وګرځوي چې له معیاري او باکیفیته ښوونې او روزنې څخه برخمن شي او د خپل هېواد د چوپړ مصدر وګرځي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزیر

## څرګندوني

دا پالیسي د پوهنې وزارت د لومړنۍ دورې د لوستلو د پالیسي د کاري ډلې د ارزښتناکه مرستې او هلو ځلو په ترڅ کې جوړه شوې ده. د لومړنۍ دورې د لوستلو د پالیسۍ کاري ډله چې د ښوونځیو د ښوونکو په ګډون د پوهنې وزارت د بېلا بېلو ریاستونو استازو څخه متشکله وه، د عمومي تعلیمات معین صاحب تائید کړه (په لومړۍ ضمیمه کې د غړو لست ته مراجعه وکړئ). کاري ډله د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیا ادارې له خوا تمویل شوې د *افغان ماشومان یې لولي پروژې* د متخصصینو تخنیکي ونډو ته په درنه سترګه ګوري.

په لومړنۍ دوره کې د لوستلو د پالیسۍ کاري ډله همداراز له بېلا بېلو سازمانونو پورې تړاو درلودونکو اړونده ښکېلو لوریو، والدینو، د ټولنې غړو، د ښوونځیو مدیرانو او ښوونکو ارزښتناکه ونډو او نظرونو ته، چې د پالیسۍ د جوړولو په بهیر کې یې د دې پالیسۍ د بډاینې لپاره نظرونه شریک کړي، په درنه سترګه کوي.

## مخففات او لنډيزونه

| | |
|---|---|
| ANDS | د افغانستان ملي پرمختيايي استراتېژي |
| ANPDF | د افغانستان د سولې او پرمختګ ملي چوکاټ |
| DP | پراختيايي همکاران |
| EGR | په لومړنۍ دوره کې لوستل |
| EJSR | د پوهنې ګډ سکټوريزه بياکتنه |
| GE | عمومي تعليمات |
| GIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوريت |
| MDG | زيرز پراختيايي هدفونه |
| MOE | د پوهنې وزارت |
| NESP | د پوهنې ملي استراتيژيک پلان |
| SDG | پايداره پراختيايي هدفونه |
| UN | ملګري ملتونه |
| USAID | د متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيا اداره |

# منځپانګه


سریزه ..................................................................................................................................... i

څرګندوني ................................................................................................................................... ii

مخففات او لنډیزونه ........................................................................................................................ iii

1. مخینه ......................................................................................................................................... 1

2. په افغانستان کې په لومړنۍ دوره کې د لوستلو بهیر....................................... 1

2.1. تاریخچه........................................................................................................... 1

2.2. لاسته راوړني .......................................................................................................... 2

2.3. ننګوني.............................................................................................................. 2

2.4. فرصتونه ............................................................................................................... 3

3. په لومړنۍ دوره کې د لوستلو پالیسي ................................................................. 4

3.1. د پالیسۍ موخه او توجیه ......................................................................................... 4

3.2. د پالیسۍ کاري لمن ................................................................................................. 4

3.3. د پالیسۍ شرحه........................................................................................................ 5

3.3.1. متن (نصاب او درسي توکي) ......................................................................... 6

3.3.2. تدریس ( د ښوونکو مسلکي وړتیاوو لوړول او د تدریسي مرسته) 7

3.3.3. آزموینه ( د زده کوونکو بررسي، څارنه او ارزونه)................................ 7

3.3.4. وخت ( درسي ساعتونه او ټولنیز خوځښت) ................................ 7

3.3.5. ژبه.................................................................................................................. 8

3. د لګښتونو د مقتضیاتو شننه.............................................................................. 8

الف ضمیمه – د لومړنۍ دورې د لوستلو پالیسۍ د کاري ګروپ غړي ........................................ 9

## 1. مخینه

د افغانستان اسلامي جمهوریت له ۱۳۸۰ل کال راهیسې پوهنه یوه له خپلو سترو لومړیتوبونو څخه ګرځولې ده. د پوهنې وزارت، د ملګرو ملتونو د زریزو پرمختیایي هدفونو (MDG)، د افغانستان ملي پراختیایي ستراتېژۍ (ANDS) او د لومړیتوب وړ ملي پروګرامونو (NPP) په پام کې نیولو سره د باکیفته ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په موه لومړی او دویم ستراتېژیک پلانونه (NESP I-II) جوړ پلې کړل. دا وخت د پوهنې وزارت د پایداره پراختیایي موخو د شاخصونو (SDG) او د افغانستان د سولې او پرمختګ ملي چوکاټ (ANPDF) په پام کې نیولو سره خپل دریم ستراتېژیک پلان (NESP III) چمتو کړی او د پلې کولو په حال کې یې دی.

د پوهنې د ملي پالیسي د منځته راوړلو د یوې برخې په توګه، د اصلاحاتو په پار د پوهنې وزارت هڅې ځلې په لومړنیو ټولګیو کې د لیک او لوست د ښه کولو په موخه د ترسره کېدونکو نوښتونو څخه د ملاتړ لپاره د پالیسی یو سند د طرحه کولو اړتیا راولاړه کړه. د پوهنې وزارت په افغانستان کې د ښوونې او روزنې د عمومي موخو او مقاصدو ته په کتنې سره په لومړنۍ دوره کې د لوستلو د ملي پالیسي جوړولو لپاره یو کاري ګروپ وګوماره.

د افغانستان حکومت د پالیسۍ په رڼا کې د باکیفیته تعلیمي چوپړتیاوو د وړاندې کولو په موخه د خپلې خوښې پربکړې کولای او طرحې جوړولای شي. د نورو رغنده ګټورو اړخونو ترڅنګ، د دې پالیسۍ پلې کول د جنډر انډول د تأمین، د زده کوونکو لخوا د ښوونځي د پرېښودلو او د زده کوونکو د ناسوبتیا د کچې د راټیټولو لپاره زمینه برابرولای شي. برسېره پر دې، دا پالیسي د معیاري نصاب او کتابونو د تالیف، د ښوونکو د مسلي پرمختګ، د ټولنیز خوځښت او ملاتړ، د دوامداره څارنې او د اړونده کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو په موخه د سمې تګلارې د غوره کولو لپاره زمینه برابروي.

## 2. په افغانستان کې په لومړنۍ دوره کې د لوستلو بهیر

په لومړنیو ټولګیو کې د پرمختللي کیفیت درلودونکې پوهنه یوه خورا مهمه برخه ده چې د باسواده ټولنې بنسټ ږدي. د نړیوال بانک اقتصاد پوهان دې پایلې ته رسېدلي دي چې د نورو تعلیمي پروګرامونو په پرتله، چې پانګونه پرې شوې، په لومړنیو ټولګیو کې په تیټ لګښت تطبیق شوي هدفمندانه پروګرامونو ښې او پایداره پایلې درلودلې دي، خو په دې شرط چې د ښوونې او روزنې کیفیت ښه او مثبتې اغېزې یې خوندي وساتل شي. په هېواد کې د پوهنې د وضعیت په تړاو د خپرو شویو رپوټونو له مخې معلومېږي چې د هېواد په کچه په لومړنۍ دوره کې د ښوونې او روزنې کچه ټیټه ده. ښوونکي د خدمت د دورې په داخل کې د وړتیاوو د لوړولو له دوامداره ملاتړ څخه بې برخې دي؛ له نیمايي ډېر ښوونکي د تدریس پر شرایطو پوره نه دي؛ ډېری ښوونکي د خپلو تحصیلي رشتو خلاف په تدریس بوخت دي؛ ګڼ شمېر زده کوونکي د درسي کتابونو بشپړې ټولګې ته لاسرسی نه لري، په اکثرو ښوونځیو کې درسي ساعتونه لنډ دي او د ښوونځیو اداره کوونکي د پوهنیز بهیر په ښه توګه د اداره کولو وړتیا نه لري.

### 2.1. تاریخچه

دا خبره په عمومي ډول منل شوې ده چې د شاهي دورې په وروستیو کلونو (۶۰مه لسیزه) کې د افغانستان د پوهنې سیستم یوه غوره معقوله بڼه درلوده. د لومړنۍ دورې زده کړه د مؤثر نصاب په کارولو سره تدریس کېده چې تر څنګ یې له رنګه درسي کتابونو څخه هم ګټه اخیستل کېده. ښوونه او روزنه په عمومي توګه او لومړني ټولګي په ځانګړې توګه له غوره کیفیت څخه برخمن وو، او د لازیات پرمختګ او ودې په حال کې وو. پوهنې او ښوونځیو ته مساویانه لاسرسی د دغه وخت ستره ننګونه وه. په هېواد کې د جمهوري دورې په پیل سره (۱۳۵۲-۱۳۵۷)، د پوهنې سیستم، په ځانګړې توګه په لومړنیو زده کړو کې، د لاسرسی او کیفیت له اړخه تازه پرمختګونه تر سترګو شول. په دې موده کې، د منلو معیارونو په رڼا کې نصاب برابر شو، نوي درسي کتابونه چاپ او وویشل شول. پوهنې ته لاسرسي کې د پام وړ ښه والی ولیدل شو، خو پوهنې ته مساویانه لاسرسی لا هم یوه ستره ننګونه پر ځای پاتې وه. د افغانستان د ډیموراټیک جمهوري او ورپسې د افغانستان جمهورۍ تر منځته راتګ وروسته (۱۳۵۷-۱۳۷۱)، پوهنې ته په لاسرسي کې پراخوالی یوازې مثبت پرمختګ

ؤ، خو نصاب او درسي کتابونه د آئيډيولوژيکي او جانبدارانه عقيدو پر بنسټ ولاړ وو او خپل ملي هويت يې له لاسه ورکړی و. د افغانستان د اسلامي دولت او د افغانستان د اسلامي امارت (۱۳۷۱-۱۳۸۰) په دورو کې، د افغانستان د پوهنې سیستم په هېواد کې د کورنۍ جګړو او بې ثباتۍ له کبله د ځوړتیا تر ټولو ټیټې کچې ته پرېوت. په ۱۳۸۰ کال کې د نړیوالې ټولنې په مرسته په هېواد کې د نوي سیاسي پړاو د منځته راتګ وروسته، افغانستان د ملي او نړیوالو معیارونو په رڼا کې د پوهنې لومړی سیستم منځته راوړ چې پخوا یې ساری نه درلود. هېواد د اساسي قانون په رڼا کې، چې وګړو ته پوهنې ته لاسرسی یو بنسټیز حق بولي، په ټول هېواد کې واحد ملي نصاب خپل کړ. په دې دوره کې، په افغانستان کې د پوهنې د چوپړونو د وړاندې کولو د پراختیا او ښه والي لپاره پرمختګونه شوي او پوهنې ته په لاسرسي او د پوهنې کیفیت کې هم د پام وړ ښه والی منځته راغلی دی او د پوهنې د ملي او متوازن سیستم بنسټ کېښودل شو.

## 2.2. لاسته راوړنې

د افغانستان اسلامي جمهوریت د پرمختیایي همکارانو په مرسته د افغانستان د پوهنې سیستم د بیارغاونې په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. په لومړنۍ دوره کې د ماشومانو شمېر خواوشا ۹ ځلې لوړ شوی دی. د ښوونځیو د بیارغاونې او همداراز په ښوونځیو کې د ماشومانو د شمولیت په برخه کې د پام وړ پرمختګ ترسره شوی. په ښوونځیو کې د ماشومانو د ګډون کچه د ۱۳۸۰ کال په پرتله چې نهه سوه زره زده کوونکي کېده، حال دا چې هیڅ نجونې پکې نه وې، په ۱۳۹۴ کې له ۲.۹ میلیونه هم، چې ۳۹ سلنه یې نجونې دي، پورته ختلې ده. له کور څخه ښوونځي پورې د پلې تګ واټن د راکمولو په موخه په کلیو او لېرې پرتو سیمو کې نوي ښوونځي جوړ شوي دي. د ښوونځیو شمېر له ۳۴۰۰ څخه ۱۶۴۰۰ ته لوړ شوی دی. له ۸۰۰۰ څخه زیاتو ښوونځیو ودانۍ جوړې شوي دي. په ځایي کچه د خپلو ماشومانو په ښوونه او روزنه کې د ټولنې د ښکېل کېدو په برخه کې د ښوونځیو *شوراګانو* منځته راتګ رغنده ونډه درلودلې ده.

په لومړنیو ټولګیو کې د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړولو لپاره د ښوونکي د مسلکي پرمختګ له لارې د زده کوونکو د لیک او لوست د وړتیاوو لوړول، د زده کړې لپاره د غوره چاپېریال برابرول، د معیاري نصاب او د ټولنیز خوځښت منځته راوړل او له پوهنې څخه ملاتړ د پوهنې وزارت تګلاره ده. او د لیک او لوست د هڅولو لپاره د ټولنو خوځښت ته زمینه برابره کړې ده. د ایکویپ (EQUIP)، جي پي اي (GPE)، سټیجز (STAGES)، بیکن (BEACON)، او پیس-ای (PACE-A) په څېر نور پروګرامونه په دې برخه کې د پام وړ ښه والی منځته راوړلو باندې توانېدلي دي. خو، په لومړنیو ټولګیو کې د لیک او لوست د کچې د لوړولو لپاره پراخه، هراړخیزه او څو بعدي اصلاحاتو ته اړتیا وه. د پوهنې وزارت د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیا اداري (USAID) په مرسته په لومړنیو ټولګیو کې د پوهنې د کچې د لوړولو لپاره پر لوستلو څرخېدلې یوه تګلاره منځته راوړې ده. په لومړنیو ټولګیو کې د زده کوونکو د پوهنې د کچې د معلوموړلو لپاره یوه ارزونه ترسره شوه چې په ډاګه یې کړه چې د کیفیت له پلوه په دویم او څلورم ټولګیو کې په دري او پښتو ژبو کې د لوستلو په وضعیت کې جدي ستونزې شتون لري.[1] هیله کېږي چې د لومړنۍ دورې د ښوونې او روزنې په برخه کې د پوهنې وزارت اصلاحات به له مونږ سره د باکیفیته ښوونې او روزنې په هکله د پوهنې دریم ملي استراتېژیک پلان (NESP-III) او د ملګرو ملتونو د پایداره پراختیایي هدفونو (SDG) شاخصونه ترلاسه کولو کې د پام وړ مرسته وکړي.

## 2.3. ننګونې

په افغانستان کې د پوهنې د ودې په برخه کې لپاره له پرمختګ سره سره، د هېواد د پوهنې په سکټور کې لا هم پرمختګ ته اړتیا لیدل کېږي. په لومړنیو ټولګیو کې د ماشومانو د شمولیت ټیټه ده چې ښوونځي ته د نه تلونکو ماشومانو د غټ شمېر، درسي کتابونو ته د نه لاسرسي، د زېربناوو عمومي انحطاط او د ښوونځي د چاپېریال د خرابېدو او د لومړنیو ښوونځیو د ټیټو دورو زده کوونکو ته ناموزونو ښوونکو له خوا پر تدریس باندې د تکیه کولو ښکارندوی ده. یاد لاملونه او داسې نور لاملونه په لومړنیو ټولګیو کې د زده کوونکو زده کړه له خنډ سره مخ کوي. په ټول هېواد کې په مؤثر ډول د معلوماتو

[1] د افغانستان په رسمي دولتي ښوونځیو کې د لومړۍ دورې د لوستلو ارزونه: ۱۳۹۴ د لومړۍ دورې د لوستلو د عمومي تعلیماتو پایلې په افغانستان کې

د راټولولو، د رپوټ ورکولو او د شننې ترسره کولو، په ځانګړې توګه توپيري اجراأتو ته د رسېدنې په برخه کې، د پرمختلليو سيسټمونو منځته راوړل ستره ننګونه ده.

شاوخوا ۵۰ سلنه ښوونځي د ګټه اخيستنې وړ ودانۍ نه لري. د ښوونځيو د ودانيو ۷۰ سلنه يې د احاطې ديوالونه نه لري، ۳۰ سلنه ښوونځي د څښکاک له پاکو اوبو څخه بې برخې دي، ۶۰ سلنه يې د مناسبو تشنابونو له نشتوالي سره مخ دي، او ۸۸ سلنه ښوونځي بريښنا نه لري. برسېره پر دې، د سترو ښارونو په ډېرى ښوونځيو کې خورا زياته ګڼه ګونه ده. په ۱۳۹۳ کال کې د لومړني ښوونځي د تکراري لوستونکي اوسط سلنه 3.9 (1.4 سلنه هلکان او 3.7 سلنه نجونې)، چې ۲۲۰۰۰۰ زده کوونکي کېږي، وه. لوړو ټولګيو ته د زده کوونکو له تګ سره سم، د تکرارووونکو سلنه هم لوړېږي چې په لومړي ټولګي کې له 1.5 سلنې څخه په شپږم ټولګي کې 6.3 سلنې ته لوړه شوې. خو، څلورم ټولګی د تکرارووونکو تر ټولو لوړه سلنه لري چې 7.4 سلنه وه. دا پديده د دې واقعيت له مخې تشريح کېدای شي چې کله زده کوونکي څلورم ټولګي ته ورسېږي، هغوی د لومړنۍ دورې زده کړې څخه د ساينسي مضمونونو (د مضمونونو شمېر کې زياتوالي) سره مخ کېږي او ازموينې د زده کوونکو د درجو د ټاکلو اساسي وسيله ګرځي. په لسو کې يوازې ۶ زده کوونکي، چې په لومړي ټولګي کې درس پيل کړی، شپږم ټولګي ته رسېدلي او د هغه چا له منځه چې واقعاً شپږم ټولګي ته لار مومي، يوازې ۶۳ سلنه يې په خپلو ازموينو کې بريالي شوي چې له دې جملې څخه ۹۱ سلنه زده کوونکو ثانوي دورې ته لار پيدا کړې ده. د خدمت له دورې څخه دمخه او د خدمت د دورې په جريان کې د ښوونکو د قابليتونو پرمختللې ارزونه له هغه ګامونو څخه ده چې د پوهنې وزارت د ټيټې کچې داخلي مؤثريت ته د رسېدنې لپاره خپله کړې ده.[2]

## 2.4. فرصتونه

د افغانستان اسلامي جمهوريت د پوهنې دريم ملي ستراتېژيک پلان (NESP-III) د پلې کولو او د تمويلوونکو همکارانو له خوا د اداره کېدونکو پروګرامونو پر مټ د زياتره دغو ننګونو د هوارې لپاره پلانونه طرحه کړي دي تر څو ښوونځيو ته لاسرسی، د درسي کتابونو شتون، د زده کړه ييز چاپېريال شرايط، د ښوونکو ورتياوې او مواصفات ښه شي او په کليوالي او ښاري سيمو کې له ښوونځي څخه د بهر ماشومانو شمېر راټيټ شي. حکومت دا خپل لومړيتوب ګڼي چې د زياتو ښوونځيو ودانۍ ورغوي، د پروګرامونو کيفيت او تړاو ښه کړي، او د مثمر کار لپاره په ښه توګه فارغين چمتو کړي. لکه څرنګه چې د پوهنې دريم ملي استراتېژيک پلان (NESP-III) کې يې انعکاس موندلی، د پوهنې وزارت استراتېژي د پوهنې د خدماتو د وړاندې کولو د پياوړتيا لپاره ۳ مهمو عنصرونو ته وده ورکړي. دا عنصرونه عبارت دي: ۱) کيفيت او تړاو، ۲) مساويانه لاسرسی او ۳) مؤثر او روڼ مديريت. د دې ۳ مهمو عنصرونو پر مټ، د افغانستان اسلامي جمهوريت پلان لري چې د لومړي ښوونځي د حاضرۍ دغه موجوده ټيټه کچه لوړه کړي او په ثانوي ښوونځي کې شموليت هم ښه کړي، په ځانګړې توګه په کليوالي سيمو کې د بېوزله او محرومو ماشومانو لپاره چې ۲۱ سلنه نجونې او ۴۳ سلنه هلکان ښوونځيو ته ځي. دا کار به د پوهنې وزارت په عملياتو د لا زياتو اسانتياوو لامل شي چې په ترڅ کې به يې د تمويلوونکو د مرستو اغېزمنتيا او همغږي لوړه او د پروګرامونو مديريت به لا غښتلی شي.

ښوونې او روزنې ته د پام وړ اړتيا ته په کتو سره، ښوونه او روزنه د نوي حکومت لپاره يو لومړيتوب جوړوي. دغه لومړيتوب د پوره کولو لپاره، حکومت په جدي توګه بايد: د لا زياتو ښوونځيو ودانۍ ورغوي او هغه په کافي وسايل باندې سمبالې کړي؛ د ښوونيزو پروګرامونو او خدمتونو کيفيت، اړوندوالي او لاس رس والي کې ښه والی رامنځته کړي؛ او داسې فارغين وړاندې کړي چې په اغېزمن ډول کار وکولای شي. د ۱۳۹۴ کال د مرغومې په مياشت کې، ښاغلي جلالتماب ولسمشر محمد اشرف غني يو پياوړی پيغام وړاندې کړو چې د پراختيايي همکارانو د هرکلي سره مخ شو، چې په دې پيغام کې راغلي، د ښوونې او روزنې تګلارې کې اساسي بدلونونو راوستلو ته اړتيا شته.

[2] پوهنه د ټولو لپاره، ملي ارزونه، ۱۳۹۴

د پوهنې سیستم اجرااتو څخه د خلکو برداشت او انګیرنه، پر دولت د خلکو اعتماد زیاتیدو باندې مستقیمه اغیزه لري. ولسمشر او د دولت مشرتابه چارواکي دغه موضوع مني، نو له دې امله، اړتیا لیدل کیږي چې د افغانستان د ښوونې او روزنې خدمتونو وړاندې کولو باندې بیرته اعتماد د ګډون، روڼتیا او پر پایلو باندې تمرکز کولو د لارې ورغول شي.

دغه پالیسي د یوه بنسټ په توګه په لومړنۍ دوره کې د لوستلو ښه والي لپاره رول لوبوي او په دې توګه په ټولیز ډول د پوهنې سکتور د ښه والي په برخه کې مرسته کوي. د یادې پالیسۍ د تطبیق د لارې، د پوهنې سکتور به په هیواد کې د پوهنې د کیفیت د ښه والي شاهد وي.

## 3. په لومړنۍ دوره کې د لوستلو پالیسي

په لومړنۍ دوره کې د لوستلو پالیسي د پوهنې وزارت د لارې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لپاره یو اساسي لارښود چمتو کوي ترڅو د پالیسۍ کچې پریکړې، د پلانونو چمتو کول او د منابعو تخصیص لا غښتلي کړي. دغه پالیسي په لومړنۍ دوره کې د لوستلو او لیکلو تدریس او زده کړې د ښه والي په برخه کې مهم رول لوبوي، چون دغه مهارتونه د ښوونځي په راتلونکو کلونو کې د زده کوونکو د پرمختګ او لاسته راوړنو لپاره اساسي مهارتونه شمیرل کیږي. سره د نورو مثبتو ګټو، د دې پالیسۍ په تطبیق سره، تمه کیږي چې زده کوونکي به ښوونځي ته دوام ورکوي، د جنسیت انډول به ښه شي، د ښوونځي د پریښودو کچه به راکمه شي او د غیر حاضرۍ په کچه کې به کموالی رامنځته شي. سربیره پر دې، د پالیسۍ دغه سند درې هغه اړخونه تعریفوي چې د تعلیمي تګلارې بریا لپاره مهم دي: ۱) د ښوونکو او د پوهنې برخې نورو کارکوونکو د مسلکي پراختیا لپاره د یوې لارې رامنځته کول چې په هغې کې د لومړنۍ دورې د لوستلو نصاب او ښوونیزو موادو په برخه کې د اساسي پوهې رامنځته کول شاملیږي، ۲) د لومړنۍ دورې د لوستلو د صنفي فعالیتونو د ښه والي لپاره د بودجه او د امکاناتو تخصیص او ویشل کې د زیاتوالی راتګ، او ۳) په ښوونځي او کور کې د لومړنۍ دورې لوستلو تریجولو لپاره د ټولنې پراخه او پیاوړې ګډون منسجم کول.

### 3.1. د پالیسۍ موخه او توجیه

په لومړنۍ دوره کې د لوستلو ملي پالیسۍ موخه د پوهنې دریم ستراتیژیک ملي پلان (۱۳۹۶-۱۴۰۰) او د پوهنې سکتور نورو کلیدي پالیسیو او مقرراتو پیاوړي کول دي. د لومړنۍ دورې د لوستلو پالیسي به د هغو پریکړو ملاتړ په موخه ځینې فعالیتونو تعریف کړي، چې په افغانستان کې د لومړنۍ دورې د لوستلو پروګرام تطبیق او پلانونه به پراخه او په اړه یې پوهاوی به لوړ کړي. د لومړنۍ دورې د لوستلو پلانونه په خپل وار سره، د یوې با سواده ټولنې رامنځته کولو بنسټ ایږدي، چې با سواده ټولنه خلکو لپاره داقتصادي او ټولنیزو فرصتونو د رامنځته کولو زمینه برابروي.

### 3.2. د پالیسۍ کاري لمن

د لومړنۍ دورې د لوستلو ملي پالیسي د پوهنې وزارت د دندو د چوکاټ دننه د یاد وزارت سره د باکیفیته ښوونې او روزنې وړاندې کولو په برخه کې، څرنګه چې د پوهنې قانون کې یې یادونه شوې او د پوهنې دریم ملي ستراتیژیک پلان د لارې تطبیق کیږي، مرسته او ملاتړ کوي. د لومړنۍ دورې د لوستلو ملي پالیسي به د بیلابیلو لارو د لارې تطبیق شي ترڅو هغه موخې ترلاسه شي چې د یادې پالیسۍ په شرحه کې ذکر شوی دي. یاده پالیسي په مرکز، ولایاتو او ولسوالیو کې د پوهنې وزارت پر هغو اداراتو باندې چې د لوستلو د ستراتیژۍ پلانونې او تطبیق مسئولیت پر غاړه لري او همدارنګه د دولتي، خصوصي او ځایي ښوونځیو مدیرانو او ښوونکو باندې چې د لوستلو د اړونده او عملي پروګرامونو د پر مخ بیولو باندې ګمارل شوي دي، د پلي کیدو وړ ده. دغه پالیسي زده کوونکو سره مرسته کوي هغه داچې ډاډ منوي ترڅو هغوی ته د زده کړې هغه امکانات چمتو کیږي چې په مرسته یې هغوی کولای شي د لوستلو او لیکلو برخه کې پرمختګ وکړي او خپل ښوونځي ته دوام ورکړي. په پای کې، دغه پالیسي د والدینو او د ښوونځي شا او خوا ټولنو ګډون تامینوي ترڅو د لوستلو اهمیت درناوی وشي، لوستل خپل ماشومانو لپاره لوستل رواج کړي او هغوی وهڅوي ترڅو ولولي او خپله د ښوونځي په چارو کې لا زیات ښکیل اوسي ترڅو د ښوونې او روزنې کیفیت چې زده کوونکو ته وړاندې کیږي تل پاتې وي.

### 3.3.د پالیسۍ شرحه

د پوهنې دریم ستراتیژیک ملي پلان په افغانستان کې د با کیفیته ښوونې او روزنې لپاره یو سالم ستراتیژیک چارچوکات تعریفوي. د پالیسۍ لارښوونې دغه چارچوکات پیاوړی کوي، چې ځانګړی تمرکز یې د یوه لومړیتوب په توګه د لومړنۍ دورې لوستلو د لیکلو په ګډون باندې تم دی. دغه پالیسي د حکومت پریکړه کوونکو، پالانوونکو او تطبیق کوونکو مرجعو لپاره کاري زمینه برابروي ترڅو د تعلیمي نصاب، او حمایوي درسي موادو او د تدریس ژبې، د ښوونکو مسلکي پرمختګ، د تدریسي مدیریت، د زده کوونکو ارزونې، د کیفیت تضمین سیستم، د زده کړې چاپېریال او د ټولنیز خوځښت په تړاو د پلې کیدو وړ پریکړې ترسره کړي. یادو عنصرونو په ګډه سره یو ټولګه (تدریس، وخت، ژبه، ازموینه او متن) منځته راوړې ده. چې د لومړنۍ دورې د با کیفیته لوستلو لپاره اړین ده.

پورته یاد ۵ عنصرونه د لوستلو د ښه والي لپاره ۵ اړیني برخې تر پوښښ لاندې راولي چې عبارت دي: د تدریس ښه والی، ډاډمنول چې زده کوونکي د هغوی لپاره د پوهېدنې وړ ژبه کې د لوستلو د زده کړې لپاره کافي وخت لري، ډاډمنول چې زده کوونکي د لوستلو درسي توکو ته لاسرسی لري، او دا ډاډمنولو لپاره چې زده کوونکو ټاکلې زده کړه ییز هدفونه ترلاسه کړي، د د زده کوونکو د پرمختګ ارزول. د پالیسۍ شرحه د لومړنۍ دورې د لوستلو د منل شویو نړیوالو اصولو پر بنسټ ترتیب شوې، چې دا اصول د فونیمیک (د غږیز واحد) اصل پر بنسټ زده کوونکي د دې جوګه کوي چې ولولي او مفهوم واخلي. په ځانګړي ډول، زده کوونکو ته تدریس کیږي ترڅو په غږ پیژندنه، د تورو پر سرچینو، د الفبا اصولو، مفهوم اخیستنې، او روان لوستلو باندې تمرکز ولري.




**د ۵ عنصرونو (5Ts) د قاعدې پر بنسټ، د پالیسۍ تشریحات په لاندې ډول ورکړل شوي دي:**

### 3.3.1. متن (نصاب او درسي توکي)

3.3.1.1. د زده کړې موادو طرحه او ترتیب کوونکي به له داسې مهارتونو او پوهې څخه برخمن وي چې د لومړنۍ دورې د لوستلو اصولو په رڼا کې به منځته راوړل شوې وي ترڅو و شي کولای له ملي نصاب او نړیوالو ښو تجربو او د شواهدو پر بنسټ غوره نړیوالو اجراأتو سره سم د لومړنۍ دورې د لوستلو د تدریس او زده کړې مواد طرحه او ترتیب کړي.

3.3.1.2. د لومړنۍ دورې د لوستلو د قابلیتونو منعکس کوونکي تدریسي توکي باید د یوه مؤثره سیستم له لارې د تعلیمي کال په پیل کې په کافي اندازه او ښه کیفیت سره چمتو او د لاسرسۍ وړ وي

3.3.1.3. د ملي نصاب درسي توکو چوکاټ باید د لومړنیو ټولګیو د لوستلو پر ستندردونو او معیارونو (بنچمارکونو) برابر وي.

3.3.1.4. د لومړنۍ دورې د لوستلو ملي نصاب باید ملي او اسلامي ارزښتونه منعکس کړي او ملي ترمینولوژیانې رعایت او له عاطفي او ټولنیزې زده کړو ملاتړ وکړي.

3.3.1.5. د تدریس او زده کړې توکي به د معلولیت درلودونکیو او په زده کړه کې له ننګونو سره مخ زده کوونکو لپاره باید درسي او زده کړه یېز توکي برابر شي.

3.3.1.6. په لومړنۍ دوره کې لوستل باید په لومړنیو ټولګیو کې د مرستندویه درسي توکو او تعلیمي ټیکنالوژۍ پر مټ تقویه شي.

### 3.3.2. تدریس ( د ښوونکو مسلکي ورتیاوو لوړول او د تدریسي مرسته)

3.3.2.1. په لومړنۍ دوره کې باید د ښوونکو د استخدام معیارونه طرحه او منځته راوړل شي او د ښوونکو د ګمارنې په وخت کې په پام کې ونیول شي.

أ. د دارالمعلمینو او پوهنتونونو په چوکاټ کې دې د لومړنۍ دورې د ښوونکو لپاره جلا جلا تحصیلي څانګې منځته راوړل شي.

ب. د ښوونکو د رزونې ریاست له پالیسیانو سره سم دې د لومړنۍ دورې د لوستلو د شرطونو پوره کوونکو ښوونکو ته د تدریس جوازلیک ورکړل شي.

3.3.2.2. د مسلکي ورتیاوو د لوړولو لپاره، د لومړنۍ دورې ښوونکو ته باید د غېر پېژندنې د تګلارو پر بنسټ روزنه ورکړل شي.

3.3.2.3. د لومړنۍ دورې لوستل باید د مربي ګرۍ او لارښودنې له سیستم څخه ملاتړ کوونکو مسلکي روزنیزو ډلو له خوا وړاندې شي تر څو د ښوونکو او زده کوونکو فعالیتونه لاپسې تقویه شي.

3.3.2.4. د لوستلو څانګې باید د ښوونځیو په کچه منځته راوړل شي چې د ښوونکو او زده کوونکي اجراآت ښه کړي.

3.3.2.5. د لومړنۍ دورې د لوستلو ټولګې باید د ۳۰ زده کوونکو لپاره د ۱ ښوونکي په تناسب سره برابر شي.

3.3.2.6. د زده کړو د کیفیت د لوړولو او اغېزمنتیا په موخه په لومړنۍ دوره کې د ښځینه ښوونکو استخدام باید د ثوه اصل په توګه رعایت شي.

3.3.2.7. د زده کړه ییز چاپېریال د ښه کولو په موخه، لومړني ښوونځي باید د ځانګړو ټولګیو او اسانتیاوو (تشنابونه، میزونه او څوکۍ، روزنیز وسایل) او د ځانګړو اړتیاوو درلودونکیو ماشومانو لپاره د جلا امکاناتو درلودونکي وي.

3.3.2.8. ټولنیزې او عاطفي زده کړې باید د ښوونکو د روزنیزو پروګرامونو برخه شي.

3.3.2.9. د نظارت د غړو او سرښوونکو د مسلکي ورتیاوو د لوړولو لپاره باید اسانتیاوې برابرې شي تر څو د دې ورتیا ولري چې ښوونکو ته په لومړنۍ دوره کې د لوستلو په برخه کې د مربي ګرۍ او لارښودنې طریقې چمتو کړي.

3.3.2.10. د لومړنۍ دورې د لوستلو ښوونکي باید د قابلیت ازموینو کې ګډون وکړي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د لوستلو پر اړینو مهارتونو سمبال او په تدریسي معیارونه پوره دي.

3.3.2.11. په لومړنۍ دوره کې د لوستلو د تدریس د ښه کولو او غښتلتیا لپاره له تعلیمي ټیکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل کېږي.

### 3.3.3. آزموینه ( د زده کوونکو بررسي، څارنه او ارزونه)

3.3.3.1. د زده کوونکو کړنې باید د معیاري ارزونو په مرسته د تدریس ژبې د حد اقل معیارونو او ستندردونو په رڼا کې د وارزول او تثبیت شي.

3.3.3.2. ښوونکي باید په لومړنۍ دوره کې د لوستلو د ښه والي او ودې په موخه د دوامداره ارزونې میتود څخه کار واخلي او د اصلاحي ګامونو د اوچتولو لپاره والدینو ته د فیډبیک (نظرونو) په وړاندې کولو سره له هغوی سره مرسته وکړي.

3.3.3.3. د ټولګې له مشاهدو (کتنو) په لومړنۍ دوره کې د لوستلو له ارزونو څخه ترلاسه شوې پایلې باید د تدریسي بهیر په اوږدو کې د نصاب د بډاینې، د روزنیزو پروګرامونو د برابرولو او پر لار اچولو او د ښوونکو او زده کوونکو د کړنو د سمون لپاره وکارول شي.

3.3.3.4. د لومړني ټولګي زده کوونکي باید د ارزونې پر بنسټ او په ازموینه کې له ګډون پرته راتلونکي ټولګي ته ولاړ او وروستي اصلاحي ګامونه باید په پورته ټولګي تر لاس لاندې ونیول شي.

### 3.3.4. وخت ( درسي ساعتونه او ټولنیز خوځښت)

3.3.4.1. په یوه اونۍ کې باید لږ تر لږه ۶ درسي ساعتونه د لوستلو تدریس لپاره ځانګړي شي.

3.3.4.2. محلي ټولنې (جوماتونه، والدین، د کلي مشران او افتخاري ښوونکي)باید په غیر تدریسي وختونو کې د لوستلو د پیاوړتیا په موخه ښکېل کړای شي.

3.3.4.3. په لومړنۍ دوره کې د لوستلو د کیفیت د پیاوړتیا په موخه د ټولنیز خوځښت فعالیتونه باید د والدینو، د ښوونځي د مدیریت شورا، جوماتونو، رسنیو، مدني ټولنو او د ښوونې او روزنې نهادونو او فعالینو له لارې حمایه او پلې شي.

.3.3.4.4 د ښوونکو او زده کوونکو غیر حاضري دې باید په جدي توګه وڅارل شي او د هغو د دوامداره ناسوبتیا لاملونه دې په ګوته او د هوارولو لپاره دې یې ګامونه پورته شي.

.3.3.4.5 د لومړنۍ دورې د لوستلو ارزښت په هکله عامه پوهاوی باید د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړولو د یوه مهم عنصر په توګه د رسنیو او نورو ټولنیزو فعالیتونو له لارې ترسره شي.

### .3.3.5 ژبه

.3.3.5.1 پښتو او دري ژبې د لومړنۍ دورې رسمي او تدریسي ژبې دي.

.3.3.5.2 نورې (دریم ګړې) ژبې په هغه سیمو کې د جلا مضمون په توګه په لومړنۍ دوره کې تدریس کېږي چېرته چې د وګړو اکثریت په هماغه ژبو خبرې اترې کوي.

.3.3.5.3 د دریم ګړې ژبو تدریسي پلانونه باید د یوه مضمون په توګه په لومړني پړاو کې عملي شي.

.3.3.5.4 په دري او پښتو او نورو منل شویو رسمي ژبو کې د لیکلو او لوستلو د تدریس د ښه کولو لپاره د ژبې د وضعیت د ارزونې د څېړنو له موندنو څخه ګټه اخیستل کېږي.

## .3 د لګښتونو د مقتضیاتو شننه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ژمن دی ترڅو په لومړنۍ دوره کې د ښوونې او روزنې کیفیت ښه کې ښه والی رامنځته کړي ترڅو د زده کوونکو په لیک او لوست کې ښه والی راشي. د دې موخې د ترلاسه کولو او د پوهنې دریم ستراتیژیک ملي پلان ستراتیژیکو موخو سره په سمون کې، اړینه ده ترڅو د لومړنۍ دورې د لوستلو ملي پالیسۍ د تطبیق لپاره مالي، بشري او سازماني امکانات مشخص کړل شي. د دې کار د ترسره کولو لپاره، یوه تطبیقي ستراتیژي به طرح او تدوین شي، چې په هغو کې به، د ښوونکو د وړتیاوو لوړولو او په لومړنۍ دوره کې د لوستلواو لیکلو تدریس مهارتونو ښه والي، د لومړنۍ دورې لپاره د تدریس او زده کړې مناسبو موادو ترتیبولو، په اقتصادي ډول د ښوونیزو موادو چاپ او ویش او ارزونې او د زده کوونکو د کړنو خارني اړوند مصارف په پام کې ونیول شي.

د لومړنۍ دورې د لوستلو په اړه تطبیقي ستراتیژي به یو پلانوونکی سند وي چې د هیواد په کچه د لومړنۍ دورې د لوستلو ملي پروګرام تطبیق په تړاو د دولت ژمنه به تسهیل کوي. د پالیسۍ د ذکر شوي موخې ترلاسه کولو لپاره به یو تطبیقي پلان چمتو شي چې د پالیسۍ د لارښودونو سره په سمون کې قرار ولري. لاندې موارد به په کې شامل وی:

1. د تطبیق شرایطو او ستراتیژیکو تطبیقي موخو شننه
2. تطبیقي پلان چې په کې کلیدي ننګونې او دندې لست شوي وي
3. عمومي تطبیقي بودجه چې په ټول افغانستان کې د لومړنۍ دورې د لوستلو پلانونې ته پایښت ور وبښي.

د غه پلان به د پوهنې وزارت ته یو لارښود په توګه رول ولوبوي، ترڅو په ټول هیواد کې نجونو او هلکانو ته په اغېزمن او مثمر ډول د لومړنۍ دورې لوستلو تدریس وړاندې کړي.

## الف ضمیمه – د لومړنۍ دورې د لوستلو پالیسۍ د کاري ګروپ غړي

| شمېره | اړونده اداره | نوم | دنده |
|---|---|---|---|
| 1 | پالیسي او ستراتیژیک پلان جوړونه | عبدالحق رؤف | د پالیسۍ څانګې مشر |
| 2 | د نصاب جوړول | شیر علی ظریفي | رئیس |
| 3 | د ښوونکو تعلیم او تربیه | عبدالحق رحمتی | رئیس |
| 4 | ټولنیز خوځښت | عبدالکریم افضلي | د ملي ټولنیز خوځښت همغږۍ کوونکی |
| 5 | تعلیمي نظارت | نجیب الله کامران | رئیس |
| 6 | د جندر واحد | نجیب الله نورستانی | مشر |
| 7 | لیک او لوست ریاست | عبدالله دانشجو | کارپوه |
| 8 | د چهلستون نسوان عالي لیسه | لیلما | سر ښوونکې |
| 9 | د حاجي عبدالقدیر عالي لیسه | پروان همګام | ښوونکی |
| 10 | مالي او اداري معینیت | محمد سرور عزیزي | لوړ پوړی سلاکار |
| 11 | ابتدايي تعلیمات | تور پیکی مهمند | رئیسه |
| 12 | د افغان ماشومان يې لولي | دریک.ار. واریک | د پالیسۍ برخې کارپوه |
| 13 | د افغان ماشومان يې لولي | محمد اکبر راهر | د پروګرام او پالیسۍ لوړ پوړی کارپوه |